# د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندى کړى مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وايي چې: د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندى کړى مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» یې پکې ویلى دي.
[(صحيح)] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

د مؤمنانو مور عايشه رضي الله عنها روايت کوي چې کله پر نبي صلى الله عليه وسلم {إذا جاء نصر الله والفتح} نازل شو: نو د قرآن د عملي کولو په موخه يې د الله تعالى د امر عملي کولو ته بيړه وکړه، چې فرمايي: {فسبح بحمد ربك واستغفره}. يعني: د خپل رب پاکي دې له ستاينې سره بيانوه او له ده نه مغفرت غواړه) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلې رکوع او سجده کې: «سبحانک» ډېر ويل: يعني تا لره پاکي ده له هرې هغې نيمګړتيا څخه چې ستا د شان سره نه ښايي، «اللهم ربنا وبحمدك» يعني اى زموږ ربه، زه ستا د ستاينې سره تسبيح وايم، ستا هغه ډول ډول ستاينه کوم چې ستا د ذات، صفاتو او کړنو د کمال ښايي، «اللهم اغفر لي» يعني اى الله! ماته بخښنه وکړه، زما ګناهونه ليري کړه او ترې تېر شه.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee